# خدائي خدمتګاري

شاه نواز خان دَ صوابۍ

باچا خان په جولائي ۱۹۲۲ء کښې په سردریاب کښې دَ مرکز چې مرکز عالیه به ورته وئیلے شو، بنیاد کېښودو چې دَ هغې تفصیلي ذکر احمدکاکا په خپل کتاب "خدائي خدمتګار" ورومبي ټوک کښې کړے دے او فضل رحیم ساقي په خپل کتاب ژوندون کښې هم کړے دے. باچا خان په خپل یو مضمون کښې چې دَ پښتون دَ یکم جون ۱۹۴۰ء په شماره کښې چاپ دے، لیکي چې په دې ملګرتیا کښې زۀ هغه سړے اخلم چې هغه دَ خدائے دَ مخلوق خدمتګار وي او خپل خدمت په چا نۀ کوي ځکه ما دا اراده کړې ده چې زۀ یو مرکز جوړ کړم. زۀ به په خپله په دې مرکز کښې اوسم زما دَ دې نوې خدائي خدمتګارۍ به درې درجې وي یوه درجه به دَ هغه خدائي خدمتګارانو وي چې هغه به ماسره په دې مرکز کښې اوسي او دَ هغوي به نور څۀ کار نۀ وي، هغوي به خپل ټول وخت خدائي خدمتګارۍ ته ورکړے وي. مونږ په دې مرکز کښې څۀ داسې انتظام هم کوو چې دَ خپل ژوند ضروریات دَ خپلو لاسو په مشقت پوره کړو ولې چې یو خدائي خدمتګار بې کاره نۀ شي کېدے، خدائي خدمتګار هغه دے چې دَ نر په شان دَ دنیا کار کوي او دَ خپلو لاسو پښو په مشقت ځان ساتي.

> کله چې باچا خان سردریاب کښې مرکز جوړ کړو نو مخالفینو رنګارنګ پروپېګنډې شروع کړې، خصوصاً مسلم لیګیانو. کله به ئې وئیل چې باچا خان مندر جوړ کړے دے، کله به ئې وئیل چې باچا خان ځان له اشرم جوړ کړے دے اګر چې اشرم په هندۍ ژبه کښې تربیت ګاه ته وائي خو ساده پښتنو ترې نه دَ مندر (درمسال) مطلب اخستو او دې پروپېګنډې ډېر پوهه خلق هم متاثره کړي وو.

دوېمه درجه به دَ هغو خدائي خدمتګارانو وي چې څۀ موده په مرکز کښې تېره کړي، تربیت حاصل کړي او بیا بهر ګرځي، دورې کوي او دَ خدائي خدمتګارۍ تبلیغ کوي، ورسره به خپل دَ دنیا ژوند هم کوي او په میاشت کښې به یو ځل داسې کار هم کوي چې دَ هغې فائده قام ته وي.

په درېمه درجه کښې به داسې کسان اخستے شي چې هغوي دَ خدائي خدمتګارۍ په اصولو ځان ښۀ پوهه کړي او بیا ځي خپل کاروبار کوي. اګر چې هغه به دَ تبلیغ کار خو ډېر نۀ کوي مګر په خپله به عملاً دَ اصولو پابند اوسي".

راځئ چې اوس وګورو چې نن سبا چې تبلیغي جماعت کوم دَ تبلیغ کار کوي او دَ دې موازنه دَ باچا خان دَ خدائي خدمتګارۍ تبلیغ سره وکړو نو دې دواړو کښې ډېر مماثلت دے او هغه دا چې دې دواړو ابتداء په جولائي ۱۹۲۲ کښې شوې ده او هغه دا چې باچا خان هم دَ دېوبند دَ عالمانو ملګرے ؤ چې دَ هغې ذکر په کتاب "بیس بړے مسلمان"

کښې شوے دے او دَ تبليغي جماعت باني مولانا الياس هم دَ ديوبند دَ عالمانو ملګرے ؤ. په کومه طريقه چې تبليغي جماعت کار کوي هم دغه طريقه دَ باچا خان دَ تبليغ وه. فرق په کښې صرف دا دے چې دَ باچا خان څۀ ملګري ورسره دَ ژوند کار هم کوي او دَ خپلو لاسو په مشقت خپل دَ ژوند ضروريات پوره کوي. (د دورو ذکر دَ احمد کاکا په کتاب خدائي خدمتګار- دويم ټوک او دَ فضل الرحيم ساقي کتاب ژوندون کښې کتلے شئ)

کله چې باچا خان سردرياب کښې مرکز جوړ کړو نو مخالفينو رنګارنګ پروپيګنډې شروع کړې، خصوصاً مسلم ليګيانو. کله به ئې وئيل چې باچا خان مندر جوړ کړے دے، کله به ئې وئيل چې باچا خان ځان له اشرم جوړ کړے دے اګر چې اشرم په هندۍ ژبه کښې تربيت ګاه ته وائي خو ساده پښتنو ترې نه دَ مندر (درمسال) مطلب اخستو او دې پروپيګنډې ډېر پوهه خلق هم متاثره کړي وو.

ماته عبدالخالق خليق صاحب چې دَ "پښتون" ايډيټر ؤ، وئيل چې کله به زۀ کلي ته (مانکي شريف) ته لاړم نو دَ پير صاحب مانکي شريف ملاقات ته به ضرور تلم. يوه ورځ رانه پير صيب تپوس وکړو چې خليقه! دا تاسو په سردرياب کښې څۀ کوئ، وئيل ئې چې ما دَ مزاح په توګه ورته ووئيل چې نور نو څۀ کوو خو هلته يو لوئے بُت دے، سجده ورته کوو، په دې پير صيب دَ غصې نه تک سُور شو او وې وئيل چې دا تاسو ښۀ کوئ، ما ورته وئيل چې څۀ وکړو، دَ باچا خان نه مجبوره يُو. هغه نور هم زيات غصه شو اخر چې لږ سوړ شو نو ما ورته وئيل چې پير صيب دا سردرياب خو څۀ لندن کښې نۀ دے، دلته چارسده کښې دے، په ټانګه کښې ورته دولس انې کرايه لګي، کۀ تاسو سره دولس انې نۀ وي نو زۀ به ئې درکړم په خپله ورشه مشاهده وکړه. مونږ چې سحر پاڅو اودسونه وکړو او دَ سحر مونځ ادا کړو بيا دَ قرآن تلاوت او درس وکړو، چې نمر راوخېژي دَ اشراق مونځ وکړو، بيا چائے وڅښو بيا دَ خدائي خدمتګارۍ تحريک باره کښې مذاکره وکړو. دغسې چې غرمه شي روټۍ وخورو، لږ اودۀ شو بيا ماسپښين مونځ وکړو، دَ احاديثو درس وکړو ،دغسې ورځ تېره شي.

خليق صيب وئيل چې ما دا خبرې وکړې نو پير صيب ووئيل چې خليقه! زما ملاقات به دَ باچا خان سره ونۀ کړې، ما ورسره وعده وکړه چې کوشش به کوم. خليق صيب وئيل چې ما باچا خان ته دَ پير صيب دا خبره وکړه نو هغوي وئيل چې زۀ هر چا سره ملاقات ته تيار يم او بيا پير صيب خو دَ پښتنو مشر دے.

خليق صيب وئيل چې دَ شورو په ورځ باچا خان مانکي ته راغے. هغه او پير صيب يو په يو کوټې (د خلوت ځائے) ته دننه شو

مونږ چې سحر پاڅو اودسونه وکړو او دَ سحر مونځ ادا کړو بيا دَ قرآن تلاوت او درس وکړو، چې نمر راوخېژي دَ اشراق مونځ وکړو، بيا چائے وڅښو بيا دَ خدائي خدمتګارۍ تحريک باره کښې مذاکره وکړو. دغسې چې غرمه شي روټۍ وخورو، لږ اودۀ شو بيا ماسپښين مونځ وکړو، دَ احاديثو درس وکړو ،دغسې ورځ تېره شي.

او ډېر وخت پس باچا خان دَ کوټې نه بهر راووتو. رخصت ئې واخستو او واپس لاړو. ما چې دَ پير صېب نه تپوس وکړو چې څنګه ملاقات وشو نو پير صېب وئيل چې افسوس چې ما دا سړے اول ليدلے وے. کۀ اوس ورسره کېږم نو لياقت علي به وائي چې دَ هندوانو نه ئې پېسې وخوړې.

باچا خان خدائي خدمتګارانو ته تلقين وکړو چې هره ضلع دې مرکز کښې ځان له کوټه جوړه کړي چې کله دوي مرکز ته راشي خو خپله کوټه کښې به اوسي.

يوه ورځ زۀ خليق صېب سره دَ هغوي په دکان (ادارۀ اشاعت سرحد) کښې ناست وم چې يو کس راغے دَ درميانه قد، رنګ غنم رنګے په سر ئې قراقلي وه، خليق صېب دَ هغوي تعارف دَ ميا عبدالله په نامه وکړو. ميا صېب ته ئې ووې چې دې زلمي دَ باچا خان باره کښې معلومات کول غوښتل. ميا صېب ماته مخاطب شو، وئيل ئې چې هغه شوم نه څۀ غواړې چې چاته دَ چائې ډوډۍ ست هم نۀ کوي. ګوره دې خليق ته، دے دلته نه (پېښور) دَ جليل کبابي نه کباب واخلي هلته لاړ شي او په باچا خان ئې وخوروي. مطلب ئې دا ؤ چې دَ کوربه په توګه دا په باچا خان فرض دي چې دَ مېلمه مېلمستيا وکړي. خليق صېب ورته ووې چې زما خپله هم کباب خوښ وي نو زړۀ مې غواړي چې کباب واخلم هلته ئې دواړه خورو.

خليق صېب وئيل چې دَ شورو په ورځ باچا خان مانکي ته راغے. هغه او پير صېب يو په يو کوټې (د خلوت ځائے) ته دننه شو او ډېر وخت پس باچا خان دَ کوټې نه بهر راووتو. رخصت ئې واخستو او واپس لاړو. ما چې دَ پير صېب نه تپوس وکړو چې څنګه ملاقات وشو نو پير صېب وئيل چې افسوس چې ما دا سړے اول ليدلے وے.

ميا صېب ووې چې هغه دَ تنګي خان (غالباً نوم ئې مير عالم خان اخستے ؤ) چې دَ اختر مبارکۍ دپاره مرکز ته لاړو نو ځان سره ئې دوه د کمودو وريژو دېګونه پاخۀ کړي وو نو باچا خان هغه کور ته ولېږل او په خلقو ئې ساګ ډوډۍ وخوړل. دلته خليق صېب دَ خبرې داسې تصحيح وکړه. خليق صېب ووې چې دَ تنګي خان چې کله دَ اختر مبارکۍ له راتلو نو دوه دَ کمودو وريژو پاخۀ دېګونه ئې ټانګه کښې کېښودل چې باچا خان سره به مېلمانۀ وي نو مېلمنو سره به ئې په شريکه وخورو. کله چې باچا خان ټانګه وليده چې دَ مرکز په دروازه رادننه شوه نو حکم ئې وکړو چې دا دېګونه هغه مزدورانو ته يوسئ چې مرکز کښې دَ تعمير په کار کښې مصروف وو کله چې دَ غرمې دَ ډوډۍ وخت شو نو باچا خان حکم ورکړو چې پېنډې شئ چې ډوډۍ وخورو. خلق پېنډې پېنډې شو، هرکس ته يوه ډوډۍ او ساګ ورکړے شو، دَ تنګي خان چې وريژې ئې راوړې وې په دې طمع ؤ چې اوس به وريژې راشي، دَ باچا خان چې پرې نظر شۀ نو وئيل ئې چې خان ولې ډوډۍ نۀ خورې، خان وئيل چې باچا خان دا خو ډېره کلکه ده، زۀ ئې نۀ شم خوړې، باچا خان خانساما ته اواز ورکړو ،وارث خانه! خان ته په کښې اوبۀ (د سالن اوبۀ) واچوه بيا ئې خان ته ډوډۍ ورکړه او خان ته ئې ووې اوس ئې خوره نرمه شوه.